# ځانته خلک مخکې شول

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې په لاره روان و چې د جمدان نومې غره سره ټېرېده نو ویې فرمایل: «سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ، سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ» قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ». « لاړ شئ دا جمدان دی، ځانته خلک مخکې شول» هغوی وویل چې: ځانته خلک څوک دي اې د الله رسوله! ویې فرمایل: هغه نارینه او ښځې چې الله تعالی ډېر یادوي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو مرتبه بیان کړه چې الله جل جلاله په کثرت سره یادوي او دا چې هغوی د نعمتونو په جنتونو کې د لوړو مرتبو په ګټلو سره له نورو جلا شوي او مخکې شوي دي، دوی یې د جمدان له غره سره تشبیه کړل، چې له نورو غرونو څخه جلا شوی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3719